آصف بهاند

۲۰۱۷/۰۷/۱۹

# احساس او درد

ښه ده چي مځکه راته سور اور شوه

ستا ښکلي مينه راته پيغور شوه

دا ستا د ميني له برکته

دا ستا کوڅه هم راته خپل کور شوه

ښه شو چي وچاود، له غمو ډک زړه

ښه شو چي پوه شو، لړ په دوکو د زمان

ښه شو چي دا تار هم را نه وشکيد

ښه شو چي دا کور، هم را نه وران شو

خپله مي کړي، نه بل چا کړي

له خپله لاسه راته بل اور شو

خپله مي جوړ کړه دا غضبونه

خپله مي کوز کړل، دا تندرونه

خو، ښه شوه، ښه شوه په دغه کار کي

په لوبو، لوبو مينه پخه شوه

زه يې زغممه، زې تيرومه

دا کړاوونه، دا ټول غمونه

که دا ټولنه، دغه قانون وي

همدا وګړي، همدغه يون وي

لا به را ټيټ شي نور تندرونه

نور به لا ډير شي، دا غضبونه



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په ځير و لولـئ

پرېږده چې مات شي، دا پټرې زړونه

ورته پيدا شي، څه احساسونه

زما پکې څه ځي، بل څه خو نه ځي

بې احساسي ځي، راځي دردونه

۱۳۶۳/۱۹/۰۹
کابل
افغانستان




افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ